(Pashto)

# د بوفالو دولتي ښوونځي

## د ټولنې په کچه د چلند اړوند معیارونه
## او د مداخلې ملاتړ

**2022-2025**

## د زده کوونکي د چلند قانون

**Dr. Tonja M. Williams**
**د ښوونځیو ناحیوي مدیر**
**www.buffaloschools.org**

## ولې د چلند د قانون درلودل اړین دي؟

د چلند د قانون موخه د زده کوونکو له چلند څخه د روښانه توقعاتو ټاکل دي کوم چې د ښوونځي په چوکاټ کې خوندیتوب او نظم ته وده ورکوي. دغه قانون څخه اړین دی چې له مخې یې زده کوونکي وکولی شي د زده کړې لپاره یو غوره چاپیریال ولري.

دغه قانون د عدالت، ښه اخلاق او له نورو څخه پاملرنه، د ځان منظم ساتل او د ښوونځي چارواکو ته له مناسب درناوي سره یو ځای په ښوونځي کې د زده کړې اړوند د پام لرونکو ټولو د جوړولو لپاره اړین دی.

## زده کوونکي د چلند د اصولو په پلي کولو کې څه رول لري؟

زده کوونکي په ښوونځي کې د خوندیتوب او نظم په ساتلو او د چلند د اصولو په پلي کولو کې خورا مهم رول لوبوي. اړونده ښوونځی ستاسو د زده کړې ځای دی، او د خوندي او ګټور ځای د ساتلو لپاره ستاسو مرستې ته اړتیا لري.

له زده کوونکو څخه تمه کیږي چې په سمدستي توګه ښوونکي، مدیر، یا د ښوونځي نورو کارکوونکو ته د چلند له اصولو څخه د سرغړونې په اړه راپور ورکړي. په دې کې هغه زده کوونکي هم شامل دي چې د ښوونځي په چوکاټ کې (د ښوونځي د بسونو په ګډون) یا د ښوونځي په کارونو کې له نورو خلکو سره د وسلو، الکولو، یا غیرقانوني توکو شاهدان پاتې کیږي.

## له یاد قانون څخه د زده کوونکو لپاره د څه شي تمه کیږي؟

له ټولو زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د نورو د خوندیتوب او هوساینې په اړه په مناسبه توګه په مناسب او مدني ډول خپل چلند ته ادامه ورکړي.
د چلند د یاد قانون له مخې، د یوه زده کوونکي په توګه له تاسو تمه کیږي چې:

- تر خپلې وسې پورې ښه کارونه ترسره کړئ او د لاسته راوړنو د لوړې کچې د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړئ.
- هره ورځ ښوونځي ته لاړ شئ، په وخت ټولګي ته حاضر شئ او زده کړو ته چمتو واوسئ.
- د زده کوونکي د مناسب چلند لپاره اړوند مقررات چې په دې کې د زده کوونکي د لباس قانون او د الکترونیکي وسایلو د کارولو قانون هم شامليږي، تعقیب کړئ.
- د ښوونځي له کارکوونکو (د ښوونځي مشاور، ټولنیز کارکوونکی، د Say Yes له کاري ډلې)څخه د هغو ستونزو په حل کې مرسته وغواړئ کومې چې ښایي د نظم پر وړاندې د اجرأتو لامل شي.
- د ښوونکو، مدیرانو، د ښوونځي د نور کاري پرسونل، او خپلو ټولګیوالو سره په درناوي، مثبته توګه چلند وکړئ.
- د خپلو کړنو لپاره ځانه مسووله وبولئ.
- د ښوونځي چارواکو ته د هر ډول هغو معلوماتو په اړه راپور ورکړئ کوم چې کولی شي نورو ته د خطر د پیښېدو یا د هغوی د ټپي کیدو مخه نیسي.
- د ښوونځي په خوندي او منظم چاپیریال ساتلو کې مرسته وکړئ او نورو ته درناوی ولرئ.
- لکه څنګه چې درته ښودل شوي وي د ټولګي ټولې دندې بشپړې کړئ.
- د ښوونځي د مدیرانو، کارکوونکو او استادانو غوښتنو ته غوږ ونیسئ.
- د ښوونځي ملکیت ته درناوی ولرئ.
- مناسبه ژبه وکاروئ.

## مخکې له دې چې د چلند د قانون څخه سرغړونه کیږي باید لاندې کارونه ترسره شي:

- له خپل ښوونکي سره خبرې وکړئ
- له زده کوونکو څخه د ملاتړ د ډلې (SST) دفتر ته د تګ غوښتنه وکړئ
- تر 10 پورې شمېر ترسره شئ
- اوږده ساه واخلئ
- د ښوونځي له کارکوونکو څخه د مرستې غوښتنه وکړئ
- لهخپل ښوونکي سره یو داسې پلان جوړ کړئ چې له تاسو سره د ستونزو په وخت کې مرسته وکړي
- د ټولګي لپاره چمتو اوسئ
- ښوونځي ته په وخت راځئ او په ټولګي کې کار کولو ته چمتو اوسئ
- هر وخت په خپله ټاکل شوې ساحه کې اوسئ
- له خپلو والدینو، نیا او نیکه، یا د کورنۍ له نورو غړو سره خبرې وکړئ

## د زده کوونکي په توګه زما حقوق او مسؤلیتونه کوم دي؟

**زده کوونکي حق لري چې:**

- په هغه ناحیه کې ښوونځي ته لاړ شئ په کوم ځای کې یې چې قانوني پالونکی یا قانوني سرپرست ژوند کوي او د قانون له لوري چمتو شوي له 5 څخه تر 21 کلنۍ پورې وړیا او مناسبې دولتي زده کړې ترلاسه کړي.

- تمه ولري چې ښوونځی به د ټولو زده کوونکو لپاره خوندي، منظم او له هدفه ډک ځای وي ترڅو زده کړې ترلاسه کړي او عادلانه چلند ورسره وشي.

- د یوه فرد په توګه ورته درناوی وشي او د نورو زده کوونکو او د ښوونځي د کارکوونکو له لوري په ښه توګه، عادلانه او درناوي سره ورسره چلند وشي.

- خپل نظر په شفاهي یا لیکلي ډول څرګند کړي.

- داسې لباس واغوندي چې د يو چا له شخصيت سره ښايي.
- د يوشان او مناسبو زده کړو فرصتونه ورته برابر شي.

- د ښوونځي په ټولو فعاليتونو کې د نژاد، رنګ، عقيدې، دين، مذهبي دودونو، جنسيت، جنسي تمايل، جنسيت پېژندني، ملي اصليت، نژادي ډلې، سياسي تړاو، د عمر واده حالت، يا معلوليت پرته په مساوي توګه برخه واخلي.

- د مخدره توکو او الکولو څخه د ناوړه ګټه اخيستنې په اړه اړونده او له هدفه ډکو معلوماتو ته لاسرسی ولري، او همدارنګه هغو اشخاصو يا ادارو ته لاسرسی ولري چې د جدي شخصي ستونزو لرونکو زده کوونکو ته مستقيمې مرستې برابروي.

- د ښوونځي په چوکاټ يا د ښوونځي په تمويل شويو مراسمو، غونډه، يا فعاليت کې، د حقيقي يا پيژندل شوي نژاد، رنګ، وزن، ملي اصليت، نژادي ډلې، دين، يا مذهبي دود، جنسيت، جنسيت/جنسي هويت، جنسي تمايل، يا معلوليت، د کارکوونکو يا زده کوونکو له لوري د ډارولو، ځورونې، يا توپيري چلند څخه خوندي وي.

## زده کوونکي مسؤلیت لري چې:

1. هره ورځ په منظمه توګه او پر وخت ښوونځي ته ولاړ شي، کورنۍ دندې ترسره کړي، د امکان تر حده د لوړ کیفیت کار کولو هڅه وکړي، زده کړو ته چمتو اوسي، او غوره زده کړو د ترلاسه کولو فرصت ترلاسه کړي

2. د ټولو هغو مقرراتو او توقعاتو څخه باخبره اوسي چې د زده کوونکي چلند یې تنظیموي او خپل ځان له یادو لارښوونو سره سم برابر کړي

3. د ښوونځي په ټولنه کې د هرچا درناوی وکړي او له نورو سره هغه ډول چلند وکړي چې یو څوک یې غواړي له هغه سره نور داسې چلند وکړي

4. د نظرونو او ورانديزونه په درناوي سره څرګند کړي ترڅو د نورو له حقوقو او امتیازاتو سپکاوی، او سرغړونه و نه کړي یا یې حقوق محدود نه کړي

5. د لباس له تاکل شوي قانون سره سم مناسب لباس واغوندي، ترڅو فزيکي روغتیا، خوندیتوب، د ښوونځي په فعالیتونو کې د ګډون محدودیت یا په غیرقانوني توګه د پام وړ ګډوډ ښکاره نه شي

6. له شته ښوونیزو برنامو څخه خبر وي ترڅو خپلې وړتیاوې تر اعظمي حد پورې وکاروي او ورته وده ورکړي

7. په ټولو علمي او غیر نصابي فعالیتونو کې د خپلې وړتیا څخه تر وسې پورې کار واخلي، او همدارنګه له نورو سره عادلانه چلند او ورڅخه ملاتړ وکړي

8. د معلوماتو او خدماتو څخه باخبره اوسي او که مناسبه وي نو، د شخصي ستونزو په حل کې د مرستې غوښتنه وکړي

9. د یو بل درناوی وکړي او له نورو سره د اړونده ناحیې د قانون او د درناوي د قانون له احکامو سره سم عادلانه چلند ولري.

10. خپل ځان په داسې ډول برابر کړي چې له مخې یې داسې چاپېریال رامنځته شي چې له ډار، ځورونې، یا توپیري چلند څخه پاک وي.

11. د نورو په اړه، د ډارولو، ځورونې، یا توپیري چلند د هرې پېښې راپور ورکولو په برخه کې فعال واوسي او نور هم دې کار ته وهڅوي.

## د لباس قانون څه شی دی چې زه یې باید تعقیب کړم؟

کله چې یو زده کوونکی د ښوونځي په چوکاټ یا د ښوونځي په فعالیت کې قرار ولري نو، د لباس قانون ورته خورا مهم دی. کله چې ښوونځي ته د تګ لپاره چمتووالی نیسئ نو په دې پوه شئ چې تاسو باید مناسب لباس واغوندئ ترڅو د زده کړو په پروسه کې خنډ یا مداخله و نه کړئ، او د مسلکي زده کړو چاپیریال ته درناوی وکړئ. د بېلګې په توګه:

- هر ډول لباس (د ټولو پتلونونو، کمیسونو، لنډو پتلونونو او یخنکاک په ګډون) چې د لیدلو له مخې، ډېر تنګ، یا ډېر لنډ وي ممنوع دی.
- د بدن ټولې برخې په مناسبو بیروني لباس باید پټې وي، چې په دې د ملا په سطحه د پتلون اغوستل هم شاملېږي.
- خوندي او مناسب بوټان واغوندئ. په نامناسبو بوټانو کې، څپلۍ ډوله بوټان (د بیلګې په توګه، چپلکې، د خوب د خونې چپلکې) هم شاملې دي چې یواځې تردې هم محدودې نه دي. استثناوې به یې یواځې په مستند شویو روغتیایي شرایطو کې پلي کیږي.
- یواځې هغه مهال خولۍ پر سر کړئ چې د روغتیایي یا دیني دلایلو لپاره اړینه وي.
- هر ډول داسې لباس چې لوڅ، فحش، لغړ، او د سپکاوي وړ وي یا د نورو سپکاوی ترې جوړیږي، یا ښوونځي ته د داسې خنډ لامل کیږي چې د ښوونیزې برنامې د خنډ لامل ګرځي، ممنوع دی.
- هر ډول لباس چې د الکولو، تمباکو، یا نورو غیرقانوني مخدره توکو کارولو ته وده ورکوي او / یا یې تاییدوي او / یا نور غیرقانوني یا د تاوتریخوالي اړوند فعالیتونو ته هڅوی ممنوع دی.

- له لنډو پتلونونو سره يو ځای بنيان (يا "لنډ پتلونونه") يوځای اغوستل کېدای شي، خو لنډ پتلونونه بايد تل يواځې د ودانيو د ننه واغوستل شي.

- داسې زېورات مه اچوئ چې ښايي وسلې وګڼل شي. کمربندونه بايد تړل شوی وي.

- داسې کالي مه اغوندئ چې د جګړه مارې ډلې د غړيتوب د نښې په توګه ورسره تړاو لري يا د پيژندلو وړ وي.

*****يادونه-- هغه زده کوونکي چې د لباس له اړونده قانون څخه سرغړونه کوي هغوی به مکلفو وي د سرغړونې اړوند توکو د پټولو يا ليرې کولو سره خپله بڼه بدله کړي، او که اړتيا وي او/يا د ترسره کېدو وړ وي نو، هغه بايد د منلو وړ توکو سره عوض کړي. هر هغه زده کوونکی چې د دې کولو څخه انکار کوي ښايي د ټولنې په کچه د چلند او مداخلې د ملاتړ لپاره له دغو معيارونو سره سم د نظم لپاره مجازات شي. د لباس له اړونده قانون څخه سرغړونې بايد د جنسيت له مخې د ښوونې او روزنې په فرصتونو کې د توپير لامل نه شي.**

## د الکترونیکي وسایلو د کارونې په اړه قوانین څه دي؟

کله چې له یوه زده کوونکي څخه ګرځنده تلیفون ضبط شي، اړونده کاري ډله به سمدلاسه د زده کوونکي والدینو/سرپرستانو ته خبر ورکړي ترڅو له خپل ماشوم سره د اړیکي نیولو نور ترتیبات (د اړیکو وسیله) رامنځته شي. د بوفالو د دولتي ښوونځیو د چلند په دې قانون کې د ضبط احکام د ښوونځي کارکوونکي مکلف کوي چې سمدستي د والدینو/سرپرستانو سره اړیکه ونیسي.

- د اړیکو نیولو لپاره د شخصي بریښنایي وسیلې (لکه ګرځنده تلیفونونه، آی پوډونه، آی پاډونه، لپټاپونه، ټابلیټونه او نورو) د راوړلو پریکړه یا د لوبو بریښنایي وسیلې (ایکس باکس، پلې سټیشن او نور) د زده کوونکي او/یا د زده کوونکي د والدینو پریکړه ده.

- زده کوونکي، والدین، او سرپرستان باید خبر وي چې اړونده ناحیه به د ښوونځي ملکیت ته د هیڅ ډول زیان، ویجاړی، غلا، یا ورته وسایلو د ورکېدو مسوول نه وي.

- ښوونځي ته له ننوتو سره سم ټول ګرځنده تلیفونونه باید د زده کوونکي په ځانګړي قلف ځای کې کېښودل شي. ګرځنده تلیفون باید په "بند" یا غیر فعاله حالت کې کېښودل شي.

- زده کوونکي نه شي کولی د ښوونځي په ودانیو او د ښوونځي په بسونو کې ګرځنده تلیفونونه له ځانه سره یوسي یا یې وکاروي.

- هر هغه زده کوونکي چې د ښوونځي په ودانۍ کې ګرځنده تلیفون له ځانه سره ګرځوي یا یې کاروي د ښوونځي د ناحیې د اداري یا د خوندیتوب/امنیت د کارکوونکو له لوري د هغه توکي ضبط کیږي.

- کله چې یاد وسایل د ښوونځي په ودانۍ کې ضبط شي، والدین باید د ودانۍ له مدیر سره وګوري ترڅو اړونده توکي بیرته ترلاسه کړي.

- که چیرې یو زده کوونکی په دې وموندل شي چې په مکرر ډول له یادې تګلارې څخه سرغړونه کوي، وسیله یې باید ضبط شي او د اړونده ناحیې د خوندیتوب/امنیت دفتر ته وسپارل شي. والدین باید د اړونده توکو د اخېستو لپاره ترتیبات ونیسي. زده کوونکي ښایي د بوفالو د دولتي ښوونځیو د چلند د اړونده قانون له مخې له مجازاتو سره مخ شي.

- د لوڅ، فحش، لغړ، یا بل ډول غیرقانوني انځورونو یا عکسونو اخیستل، خپرول، لیږدول، یا شریکول، که هغه په برېښنایي ډول د معلوماتو د لیږد (د مخابراتي بې سیمه وسیلو) یا بل ډول (عموما د لیکلي پیغام، جنسي پیغام، بریښنالیک، او داسې نورو په نوم یادیږي) کولی د ایالت او/یا فدرالي قانون له مخې یو جرم وشمېرل شي. هر هغه څوک چې لوڅ، فحش، لغړ، یا بل ډول غیرقانوني انځورونه یا عکسونه اخلي، خپروي، لیږدوي یا یې شریکوي د ښوونځي د اړونده ناحیې د نظم د کړنلارو لاندې مجازات کیږي او د قانون پلي کولو او/یا نورو مناسبو ایالتي او فدرالي ادارو ته یې په اړه راپور ورکول کیږي، کوم چې ښایي وي د جنسي مجرمینو په قضیو کې د نیولو، جنایي تعقیب، او په اوږدمهاله توګه له ښوونځي څخه د ایستل کېدو پایلې له ځانه سره ولري.

- پولیس، قانون/د یوې دولتي ادارې د قانون پلي کوونکي چارواکي، د ښوونځي خوندیتوب/امنیت او د ښوونځي اداري کارکوونکي د مناسب اقدام د ترسره کولو لپاره د اړیکو د اړونده وسایلو د درلودلو او کارولو پر وړاندې د اقدام کولو واک لري.

*****یادونه-- اړونده ناحیه ښایي په ټولګي کې د ګرځنده تلیفون مناسبې کارونې ته اجازه ورکړي کله چې یاد وسایل یواځې د ښوونې او روزنې د موخو لپاره کارول کیږي.**

**د بریښنایي وسایلو کارولو اجازه به یواځې د ښوونځي د مدیر له لوري ورکول کیږي.**

## د مداخلې او غبرګون کچه

کله چې زده کوونکي د بوفالو د دولتي ښوونځیو د چلند په قانون کې د چلند اړوند له ذکر شویو مقرراتو څخه سرغړونه وکړي نو د ښوونځي کارکوونکي او مدیران یې په ډېر هوښیارۍ، مناسب او دوامداره توګه ځواب ورکوي.

د چلند په قانون کې د چلند د قانون سرغړونو ته د احتمالي ځواب 4 درجې شاملې دي. هره سرغړونه د مداخلې او غبرګون له دې کچې څخه یوه ته منصوب شوې ده. مدیران او د ښوونځي کارکوونکي باید د هر چلند لپاره **یواځې وړاندیز شوي کچې** وکاروي.

**که چیرې نامناسب یا ګډوډ چلند دوه یا ډیرو کچو ته منصوب شي، نو په هر ځای کې چې امکان ولري، د مداخلې او د نظم د اړوند غبرګون ترټولو ټیټه کچه باید وکارول شي.**

د بېلګې په توګه، که یو زده کوونکی د لاربښوونو له تعقیبولو څخه ډډه وکړي، د ښوونځي کارکوونکي او مدیران باید لومړی 2 مې کچې ته له تلو مخکې په 1 کچه کې د مداخلې اړونده تګلارې او ځوابونه وکاروي.

کله چې مدیران او د ښوونځي کارکوونکي د زده کوونکي چلند ته ځواب ووايي، له دوی تمه کیږي چې ګڼ شمېر فکتورونه په پام کې ونیسي. لاندې پاڼې د مداخلو او د غبرګون د کچې په اړه نور معلومات وړاندې کوي.

## نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچه یي

**اساس: لومړی په نښه شوی ټیټه کچه وکاروئ**

**1 مه کچه.** د ټولګي ملاتړ او له زده کوونکو څخه د ملاتړ دله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هیڅ مخکینی سرغړوني نه لري او پر وراندي يي مداخلي نه وي پلي شوي

**2 مه کچه.** مناسب مديريت: ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په ټولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي

**3 مه کچه.** لنډمهاله ځنډېدنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي

**4 مه کچه.** د اوږدمهاله ځنډېدنې غوښتنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خونديتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي

| نامناسب یا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | کیدای شي پولیسو/مناسبې اداري ته راجع شي |
|---|---|---|---|---|---|
| **#1. غیر حاضری** | | | | | |
| • له ښوونځي څخه بې عذره غیر حاضري | ● | | | | |
| • له ښوونځي څخه دوامداره یا ډیره غیر حاضري | ● | ● | | | |
| • عادتي غیرحاضري (د بیلګې په توګه، په غیرقانوني توګه د هرې ټاکل شوې دورې، ربعې، یا کال له 20 سلنې څخه زيات د څو ورځو لپاره له ښوونځي څخه غیر حاضري) | ● | ● | | | |
| **#2. علمي نا صداقت** | | | | | |
| • نقل یا د علمي موادو غلا (له وړکتون مخکې -8 م ټولګي) | ● | ● | | | |
| • نقل یا د علمي موادو غلا (له 9 - 12 م ټولګي) | ● | ● | ● | | |
| **#3. الکول** | | | | | |
| • د نفوذ لاندې | | ● | ● | ● | ● |
| • کارول یا درلودل | | ● | ● | ● | ● |
| • وېشل او پلورل | | | | ● | ● |
| **#4. په زده کوونکي باندې برید (د خبرتیا یا تېروتنې پرته د بل زده کوونکي د وهلو، ټکولو، یا په سوک باندې د وهلو په ګډون)** | | | | | |
| • له ټیټې کبدو پرته (هيڅ د لیدو وړ، فزیکي ټپونه؛ د کورنې تاوتريخوالي پېښې یا د اړيکو شخړې پکې شتون و نه لري) | | ● | ● | | |
| • له وړکتون مخکې ټولګي څخه تر 4 م ټولګي پورې د بدن ټپي کېدنه | | ● | ● | ● | |
| • له 5 څخه تر 12 مو ټولګیو پورې د بدن ټپي کېدنه | | | ● | ● | ● |
| **#5. د چاودېدونکو توکو ګواښ** | | | | | |
| • له وړکتون د مخکې ټولګي تر 4 م ټولګي | | ● | ● | ● | ● |
| • له 5 م څخه تر 12 م ټولګي | | | | ● | ● |
| **#6. ځورول (د سايبري ځورونې او د جګړه ماري دلې د شخړې په ګډون)** | | | | | |
| • قصدي چلند (د شفاهي، فزیکي، یا لیکلي چلند په ګډون) یا بربنبنايي اړيکه چې ګواښوونکي یا په جدي توګه داروونکي وي او د ښوونځي منظمې زده کړې د پام وړ توګه ګډوډوي | ● | ● | ● | | |
| • جدي ځورونه (د بیلګې په توګه، د وخت په تیریدو سره په قصدي منفي چلندونو کې ښکیلتیا چې د ښوونځي زده کړې یا له رسمي نصاب په وړ هاخوا برنامو کې د ګډون یا ګټې اخيستنې لپاره د بل زده کوونکي په وړتيا باندې منفي اغيزه کوي) | | ● | ● | ● | ● |

# نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچه يې

**اساس:** لومړی په ټیټه کچه وکاروئ

| **1 مه کچه.** د ټولګي ملاتړ او له زده کوونکو څخه د ملاتړ ډله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هيڅ مخکينی سرغړونې نه لري او پر وړاندې يې مداخله نه وي پلي شوې | **2 مه کچه.** مناسب مديريت: ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په ټولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي | **3 مه کچه.** لنډمهاله څنډېدنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي | **4 مه کچه.** د اوږدمهاله څنډېدنې غوښتنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خونديتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي |
|---|---|---|---|

| نامناسب يا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | ښايي ورته راجع شي پوليسو/مناسبې ادارې ته |
|---|---|---|---|---|---|
| **#7. د بس اړوند سرغړونې** | | | | | |
| • په بس کې لږ خنډ (چې خوړل، ښکنځل، په لوړ غږ خبرې کول، يا په بس کې درېدل پکې شامليږي) | • | • | | | |
| • په بس کې جدي ګډوډي (د جګړې په ګډون، د شيانو غورځول، د بس چلوونکي ته مزاحمت کول، د بيړني وتنې د دروازې پرانيستل) | | • | • | • | • |
| **#8. د ټولګي پرېښودل** | | | | | |
| • مشروط کېدل، ارادي ناکامي چې په ټاکل شوي ټولګي د غير حاضرۍ يا ګډون نه کولو له امله وي | • | • | | | |
| **#9. د ټولګي ګډوډي** | | | | | |
| • په ټولګي کې خبرې کول يا په بې واره توګه خبرې کول؛ د شيانو غورځول؛ د نورو زده کوونکو ځورول يا يې په جنسي ډول پارول؛ او نور چلندونه چې د زده کوونکو د زده کړې مخه نيسي | • | • | | | |
| **#10. له چارواکو څخه سرغړونه او/يا د اوامرو نه منل** | | | | | |
| • د لارښوونو په تعقيب کې پاتې راتلل | • | • | | | |
| • د ښوونځي د کارکوونکو پوښتنو يا غوښتنو ته د ځواب په تعقيب کې پاتې راتلل | • | • | | | |
| • د هغو لارښوونو په تعقيب کې پاتې راتلل چې ځان يا بل کس ته د احتمالي ګواښ يا زيان لامل کيږي | • | • | • | | |
| • د هغو لارښوونو په تعقيب کې پاتې راتلل چې په مستقيم ډول د ځان يا نورو ته د زيان رسېدو لامل کيږي | • | • | • | | |

# نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچه يي

**اساس: لومړی په نښه شوی ټیټه کچه وکاروئ**

| **1 مه کچه**. د ټولګي ملاتړ او له زده کوونکو څخه د ملاتړ دله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هيڅ مخکيني سرغړوني نه لري او پر وړاندي يې مداخلې نه وي پلي شوي | **2 مه کچه**. مناسب مديريت: ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په ټولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي | **3 مه کچه**. لنډمهاله ځنډېدنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي | **4 مه کچه**. د اوږدمهاله ځنډېدنې غوښتنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خونديتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي |
|---|---|---|---|

| نامناسب يا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | کيدای شي پوليسو/مناسبې اداري ته راجع شي |
|---|---|---|---|---|---|
| **#11. بې احترامانه چلند** | | | | | |
| • نامناسبې اشارې، نښې، يا تبصرې کول، يا د سپکاوي يا سرغړونې اړوند خبرې کول | • | • | | | |
| • لفظي سپکاوی يا د سپکو خبرو کارول، يا د ښوونځي کارکوونکو ته دروغ ويل، د هغوی غلطول، يا ورته غلط معلومات ورکول | • | • | • | | |
| • لفظي سپکاوی يا د سپکو خبرو کارول، يا د ښوونځي کارکوونکو ته دروغ ويل، د هغوی غلطول، يا داسې غلط معلومات ورکول چې بل کس ته په احساساتي يا فزيکي ډول زيان رسوي | • | • | • | • | • |
| **#12. د لباس قانون** | | | | | |
| • په اړه يې په 35 مه پاڼه کې د لباس د قانون معيارونو ته مراجعه وکړئ | • | • | | | |
| **#13. مخدره توکي يا ممنوع شوي مواد (په ښوونځي کې، د ښوونځي په تمويل شويو فعاليتونو يا کله چې په داسې پيښو کې ښکيل وي چې د ښوونځي د ټولنې په خونديتوب يا هوساينه اغيز کوي)** | | | | | |
| • د نفوذ لاندې | | • | • | • | • |
| • کارول يا درلودل | | • | • | • | • |
| • وېشل او پلورل | | | | • | • |
| **#14. له اجازې پرته تېښتېدل** | | | | | |
| • له اجازې پرته د ښوونځي له ميدانونو څخه وتل يا د ښوونځي په تالارونو کې ګرځېدل او داسې نور | • | • | | | |
| **#15. اختلاس/ جبر (د بېلګې په توګه، د زور له لارې له بل کس څخه (پيسې يا ملکيت) اخيستل يا يې د اخېستو هڅه، په ځرګنده يا پټه توګه)** | | | | | |
| • له وړکتون د مخکې ټولګي تر 4 م ټولګي | | • | • | | |
| • له 5 م څخه تر 12 م ټولګي | | | • | • | • |
| **#16. د اور پر ضد د خبرداري د زنګ په دروغو فعالول** | | | | | |
| • له وړکتون د مخکې ټولګي تر 4 م ټولګي | | • | • | • | • |
| • له 5 م څخه تر 12 م ټولګي | | • | • | • | • |
| **#17. جګړه کول** | | | | | |
| • له بل زده کوونکي سره فزيکي شخړه (د بېلګې په توګه، وهل يا ټېل وهل) | • | • | | | |
| • کوچنۍ جګړه (کيدای شي هغه پېښې هم پکې شاملې وي چې لږ ټپونه له ځانه سره ولري) | • | • | • | | |

# نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچه يي

| اساس: لومړی په ښکته شوی تیته کچه وکاروئ | | | |
|---|---|---|---|
| **1 مه کچه.** د ټولګي ملاتړ او له زده کوونکو څخه د ملاتړ دله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هيڅ مخکينی سرغړونې نه لري او پر وړاندې يې مداخلې نه وي پلې شوي | **2 مه کچه.** *مناسب مديريت:* ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په ټولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي | **3 مه کچه.** *لنډمهاله ځنډېدنه:* ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي | **4 مه کچه.** *د اوږدمهاله ځنډېدنې غوښتنه:* ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خوندیتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي |

| نامناسب يا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | کیدای شي پولیسو/د ټولنې اداري ته راجع شي |
|---|---|---|---|---|---|
| **#18. د اور لګول/ اور اچول** | | | | | |
| • په قصدي توګه د اور اچول؛ د اور د پیل په پایله کې د ملکيت ویجاړول | | | • | • | • |
| **#19. قمار** | | | | | |
| • د پیسو يا تبادلې وړ توکو کارولو ته اړتيا | • | • | • | | |
| **#20. په تالار کې بد چلند** | | | | | |
| • منډې وهل، ډیر شور کول، يا د اوږدې مودې لپاره پرته له هدفه درېدل | • | • | | | |
| **#21. د نژاد، توکم، جنسيت، جنسي تمايل، معلوليت، يا دين پر اساس ځورول (د ښوونځي د ټولنې د غړو پر وړاندې د سايبري ځورونې په ګډون)** | | | | | |
| • کوچنۍ ځورونه | • | • | | | |
| • جدي ځورونه (د بيلګې په توګه، دوامداره، يا اوږدمهاله ځورونه) | | • | • | • | • |
| **#22. د کرکې اړوند جرم** | | | | | |
| • د يوه شخص يا ملکيت پر وړاندې يو جرمي سرغړونه چې په ټوله يا يوه برخه کې د نژاد، دين، معلوليت، توکمیز اصليت، يا جنسي تمايل پر وړاندې د مجرمانه تعصب په واسطه هڅول شوی وي، چې کرکجنه وينا هم پکې شامليږي | | • | • | • | • |
| **#23. په ګډوډۍ کې برخه اخيستل يا ورته د نورو هڅول** | | | | | |
| • په ښوونځي کې د نظم او دسپلين هغې فضا ته د لوی ګډوډۍ رامنځته کول چې د مؤثره زده کړو لپاره اړینه وي، د ټولګي له عمومي ګډوډۍ څخه ور هاخوا (رستوران، تالار، کتابتون، د بس تمځای او نورو کې) | | • | • | • | • |
| • د ګډوډۍ د پیل کولو لپاره د نورو راجلبولو لپاره د اړيکې د شخصي وسيلې کارول | | • | • | • | • |

# نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچې يې

**اساس:** لومړی په ښکته شوې ټيټه کچه وکاروئ

**1 مه کچه.** د ټولګي ملاتړ او له زده کوونکو څخه د ملاتړ ډله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هيڅ مخکينی سرغړونې نه لري او پر وړاندې يې مداخلې نه وي پلي شوې

**2 مه کچه.** مناسب مديريت: ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په ټولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي

**3 مه کچه.** لنډمهاله ځنډېدنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي

**4 مه کچه.** د اوږدمهاله ځنډېدنې غوښتنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خونديتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي

| نامناسب يا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | کېدای شي پوليسو/د ټولنې اداري ته راجع شي |
|---|---|---|---|---|---|
| **#24. د څکولو درمل** | | | | | |
| • د نفوذ لاندې - روغتيايي کاري ډله بايد سمدستي خبره شي که چيرې يو زده کوونکی ومومل شي چې تر اغيزې لاندې وي يا د څکولو درمل کاروي | | • | • | • | • |
| • کارول يا درلودل | | • | • | • | • |
| • وېشل او پلورل | | | | • | • |
| **#25. د ښوونځي کاري ډلې/ د بوفالو د دولتي ښوونځيو (BPS) اړوند له غير بالغو زده کوونکو سره فزيکي اړيکه (د ښوونځي ليدونکو، د ټولنې د همکارانو، د ښوونځي د ننه د خدماتو له چمتوکوونکو څخه مخکې يا وروسته)** | | | | | |
| • د ښوونځي له کاري ډلې سره غير ارادي فزيکي اړيکه | • | • | | | |
| • د ښوونځي پر کارکوونکو بريد؛ د بوفالو د دولتي ښوونځيو يا نورو لوياتو باندې په فزيکي ډول بريد کول، چې په دې کې د هغې کاري ډلې په غړي بريد کول هم شامل دي چې په جګړه يا د ګډوډۍ په بل ورته فعاليت کې مداخله کوي | | | • | • | • |
| **#26. ګرځنده برېښنايي وسايل** | | | | | |
| • په غير مجازي وختونو کې د ګرځنده تليفونونو، iPods،PDAs ، د برېښنايي لوبو د وسايلو کارول. په لومړی سرغړونه کې، زده کوونکي ته بايد يوازې يو خبرداری ورکړل شي. يوازې له لومړی سرغړونې وروسته زده کوونکی د 1 کچې د ځوابونو لاندې نيول کېدلی شي. په دوهمه سرغړونه کې، د والدينو خبرتيا بايد ترسره شي. د ښوونځي مشرتابه کولی شي هغه کړنې پلي کړي چې په ښوونځي کې خونديتوب زياتوي: د داسې سيستمونو رامنځته کول چې ښوونځي ته د ننوتو پرمهال له زده کوونکو څخه ګرځنده تليفونونه راټول کړي او بيا يې د ښوونيزې ورځې په پای کې زده کوونکو ته بېرته ورکړي. | • | • | | | |
| • د هغو الکترونيکي وسايلو کارول چې د دې لپاره ټاکل کيږي چې دا ډول کارول بل چاته ته په مستقيمه توګه فزيکي يا احساساتي زيان رسوي | | • | • | • | • |

## نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچه یي

**اساس:** لومړی په نښه شوی ټیټه کچه وکاروئ

| **1 مه کچه.** د تولګي ملاتړ او له زده کوونکو څخه د ملاتړ ډله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هيڅ مخکينۍ سرغړونې نه لري او پر ورانديي يي مداخله نه وي پلي شوي | **2 مه کچه.** مناسب مديريت: ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په تولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي | **3 مه کچه.** لنډمهاله څنډېدنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي | **4 مه کچه.** د اوږدمهاله څنډېدنې غوښتنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خونديتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي |
|---|---|---|---|

| نامناسب یا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | کیدای شي پولیسو/د تولنې اداري ته راجع شي |
|---|---|---|---|---|---|
| **#27. په دیوالونو د رسامیو په ګډون، ملکیت ته زیان رسول** | | | | | |
| • لږ یا ناڅاپي زيان (له 50 امريکايي ډالرو څخه کم) | • | • | | | |
| • د بل کس یا د ښوونځي ملکيت ته زيان رسول | | • | • | • | • |
| **#28. پرته له اجازې څخه د ښوونځي د تجهيزاتو کارول** | | | | | |
| • د کمپيوټر، فاکس ماشين، تليفونونو او نورو کارول. | • | • | | | |
| **#29. په جدي توګه د بدن ټپي کول** | | | | | |
| • د مريني د پام وړ خطر رامنځته کول چې د اوږدمهاله يا جدي انحطاط لامل کيږي، د بدن د هرې د يوې برخې د فعاليت له لاسه ورکول يا د بدن د يوې برخې فعاليت ته زيان رسول | | | • | • | • |
| **#30. جنسي تيري یا سرغړونه** | | | | | |
| • په جبري ډول جنسي عمل - د ښوونځي کارکوونکي اړ دي چې د هر ډول جنسي تيري لپاره سمدلاسه د بوفالو اړوند پوليسو سره اړيکه ونيسي | | | | • | • |
| **#31. د جنسي تيري پر اساس له قانون سرغړونه** | | | | | |
| • جنسي ځورونه (د بيلګې په توګه، ناغوښتل جنسي پرمختګونه، د جنسي خوښې غوښتنې؛ د جنسي طبيعت اړوند نور نامناسب لفظي، ليکلي يا فزيکي چلند) | | • | • | • | • |
| • جنسي فعاليت يا ناوړه جنسي چلند (د بيلګې په توګه، په نامناسب ډول د بدن ښکاره کول، په جنسي فعاليت کې ښکيلتيا، او نور) (له وړکتون د مخکې تولګي تر 4 م تولګي پورې) | • | • | • | • | • |
| • جنسي فعاليت يا ناوړه جنسي چلند (له 5 م تر 12 م تولګي) | | • | • | • | • |
| **#32. ناوخته کېدل** | | | | | |
| • په تولګي يا ښوونځي کې دوامداره يا ډير ځله ناوخته کېدل | • | • | | | |
| **#33. د منلو وړ توګه د تکنالوژۍ د کارولو له تکلاري سرغړونه** | | | | | |
| • د لا زياتو تفصيلاتو لپاره د دغو*معيارونو* 9 مې پاڼې ته مراجعه وکړئ | • | • | | | |
| **#34. د ښوونځي د کاري ډلې ته ګواښ کول (فزيکي اشاره، ليکلی ګواښ، يا لفظي ګواښ)** | | | | | |
| • له وړکتون د مخکې تولګي تر 4 م تولګي | • | • | • | • | • |
| • له 5 م څخه تر 12 م تولګي | | • | • | • | • |

## نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچه يي

**اساس: لومړی په نښه شوی ټیټه کچه وکاروئ**

| **1 مه کچه.** د ټولګي ملاتړ او له زده کوونکو څخه د ملاتړ ډله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هيڅ مخکينی سرغړونې نه لري او پر وړاندې يې مداخلې نه وي پلي شوي | **2 مه کچه.** مناسب مديريت: ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په ټولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي | **3 مه کچه.** لنډمهاله ځنډېدنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي | **4 مه کچه.** د اوږدمهاله ځنډېدنې غوښتنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خونديتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي |
|---|---|---|---|

| نامناسب يا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | کيدای شي پوليسو/د ټولنې ادارې ته راجع شي |
|---|---|---|---|---|---|
| **#35. غلا** | | | | | |
| • له 500 امريکايي ډالرو څخه کمه | | • | • | | |
| • له 500 امريکايي ډالرو څخه زياته (سپارښتنه کيږي چې له ورکتون په مخې ټولګي يا ورکتون کې د زده کوونکو لپاره بايد له پوليسو سره اړيکه و نه نيول شي) | | | • | • | • |
| **#36. د تمباکو درلودل يا کارول** | | | | | |
| • د ښوونځي له کارکوونکو څخه غوښتنه کيږي چې زده کوونکي د مخدره توکو د ناوړه ګټه اخيستنې مناسبې مشورې ورکولو ته راجع کړي | • | • | | | |
| **#37. له اجازې پرته ننوتل** | | | | | |
| • له اجازې پرته د ښوونځي په ودانۍ کې پاتې کيدل، چې په دې کې له ښوونځي څخه د ځنډېدنې يا اخراج پرمهال؛ د ودانۍ د ننوتو د وسايلو ماتلو او ننوتل هم شامل دي | | • | • | • | • |
| **#38. غير مجازي پلور يا وېش (د بيلګې په توګه د غير مجازي يا غير تصويب شويو توکو پلور يا وېش چې په دې قانون کې شتون و نه لري)** | | | | | |
| • د لږ پيسو ارزښت لرونکي توکي (له 50 امريکايي ډالرو څخه کم) | • | • | | | |
| • د پام وړ مالي ارزښت لرونکي توکي | | • | • | | |
| **#39. زده کوونکي ته لفظي يا فزيکي ګواښ** | | | | | |
| • د بل زده کوونکي لوري ته د ګواښونکي يا تېرې کوونکي ژبې يا اشارې کارول | • | • | • | | |

# نامناسب او ګډوډ چلند او د غبرګون کچه یي

اساس: لومړی په نښه شوی تیته کچه وکاروئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| **1 مه کچه.** د ټولګي ملاتړ او له زده کوونکو ځخه د ملاتړ ډله: ښايي دا مناسبه وي کله چې زده کوونکي هيڅ مخکينی سرغړونې نه لري او پر ورإندې يې مداخلې نه وي پلي شوي | **2 مه کچه.** مناسب مديريت: ښايي مناسب مديريت هغه مهال غوره کله چې په ټولګي کې د چلند د حل کولو لپاره ملاتړ خدمات پلي شوي وي خو اړونده چلند د زده کوونکو او نورو په زده کړه منفي اغيزه کوي | **3 مه کچه.** لنډمهاله ځنډېدنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې مداخلې او ملاتړي خدمات پلي شوي وي خو چلند تکرار او زياتيږي | **4 مه کچه.** د اوږدمهاله ځنډېدنې غوښتنه: ښايي هغه مهال مناسبه وي کله چې د زده کوونکي چلند په ښوونځي کې د نورو په خونديتوب باندې په جدي توګه اغيزه کوي |

| نامناسب يا ګډوډ چلند | کچه 1 | کچه 2 | کچه 3 | کچه 4 | کيدای شي پوليسو/د ټولنې اداري ته راجع شي |
|---|---|---|---|---|---|
| **#40. وسلې، ټوپک او چاودېدونکي توکي** | | | | | |
| • چاودېدونکي توکي (د هر ډول اور اچوونکي يا چاودېدونکي توکو يا وسايلو په ګډون د اور وژنې، د لوګي د بمونو، پلور، ويش، چاودنه، يا د چاودنې ګواښ کول. اورونه يا کوم سوځېدونکي يا چاودېدونکي توکي يا د موادو يا توکو ترکيب، له ېز يا چاودېدو پرته) | | | • | • | • <br> بايد پوليسو ته راجع شي |
| • ټوپک (د وسلو درلودل لکه ځنګه چې د فدرالي قانون په 18 USC 921 برخه کې تعريف شوي - د بيلګې په توګه، لاسي ټوپک، دوربيني ټوپک، چاړې داره ټوپک، او بمونه) | | | | • | • <br> بايد پوليسو ته راجع شي |
| • د ټوپکو نور ډولونه (د هر ډول ټوپک درلودل، هر ډول، ډک يا خالي ټوپک، د چلولو وړ يا غير فعال ټوپک، چې په دې ډله کې د هر هغه شی شامليږي چې د ټوپيک په څير ښکاري، د ډزېدونکو ټوپکو پرته، د بيلګې په توګه، بی بی ټوپک، دوربيني ټوپک، د اوبو ټوپک، او نور.) | | | • | • | • |
| • نورې وسلې (د هر ډول هغو تجهيزاتو درلودل چې بدن ته زيان رسولی شي، نورې وسلې، يا د ټوپکو نور ډولونه). له يو کال ځخه د کمې مودې لپاره د کال لپاره اخراج د ډزېدونکو ټوپکو د سرغړونې لپاره د ايالت د قانون له لورې امر شوی، خو د بوفالو دولتي ښوونځيو له لورې بيا د قضيې په اساس يکې بدلون راتللی شي | | | • | • | • <br> بايد پوليسو ته راجع شي |
| • چاودېدونکي توکي (د هر ډول اور اچوونکي يا چاودېدونکي توکو يا وسايلو په ګډون د اور وژنې، د لوګي د بمونو، پلور، ويش، چاودنه، يا د چاودنې ګواښ کول. اورونه يا کوم سوځېدونکي يا چاودېدونکي توکي يا د موادو يا توکو ترکيب، له ېز يا چاودېدو پرته) | | | • | • | • <br> بايد پوليسو ته راجع شي |

**که يو زده کوونکی يا پالونکی له ښوونځي څخه د باندې مرستې يا خدماتو ته اړتيا ولري، ښايي لاندې دفترونه ورته ګټور تمام شي:**

*مهرباني وکړئ د خپل ماشوم ښوونځي ته زنګ ووهئ ترڅو د بديلو لارښوونو ترتيب برابر کړئ*

| | |
|---|---|
| د ناحيې اړوند بديلې لارښوونې (عمومي پوښتنې) | 816-3133 |
| له حاضرۍ څخه ملاتړ | 816-3593 |
| لارښوونې او مشوره ورکول | 816-3702 |
| د روغتيايي رخصتی اړوند کورنی لارښوونې | 816-3133 |
| په کور کې د ښوونځي جوړولو اړوند دفتر | 816-3106 |
| د بې کوره اشخاصو د ښوونې او روزنې برنامه | 816-3717 |
| د شړل شويو او له خطر سره د مخامخ شويو ځوانانو برنامه | 816-3172 |
| د زده کوونکي کاري ډله/د ځنډېدنې اړوند اورېدنه | 816-3547 |
| د زده کوونکي شموليت/نوم ليکنه | 816-3717 |
| د بوفالو له دولتي ښوونځيو سره د اړيکو مسوولين | 816-3500 |
| څو ژبنۍ ښوونه او روزنه | 816-3577 |
| د والدينو د مدافع وکيلانو دفتر | 816-4678 |
| د والدينو او کورنۍ د ښکېلتيا دفتر | 816-3170 |
| امنيتي څانګه | 816-3707 |
| د ځانګړو زده کړو څانګه | 816-3060 |
| (په ګډون د: له ښوونځي څخه مخکې تولګي، د زده کوونکي ځای پرځای کول او د والدينو اړوند خدمات) | |
| د ناحيوي مدير دفتر | 816-3575 |

**که ستاسو ماشوم په بديلو لارښوونو کې برخه اخلي، تاسو بايد د دوی ښوونځي ته د هغوی د کورنيو دندو په اړه زنګ ووهئ**

# 2022-2023
# د ښوونې او روزنې د بورډ غړي

Mr. Louis Petrucci
رئیس
د پارک ناحیې غړې

Dr. Ann Rivera
د اجرائیه ریاست د چارو مرستیال
د بورډ غړی - سرپرست

Dr. Kathy Evans-Brown
د زده کوونکي د لاسته راوړنې مرستیال رئیس
د ختیځې ناحیې غړی

Mr. Terrance Heard
د ښوونې او روزنې د ملاتړ رئیسه
د بورډ غړی - سرپرست

Mrs. Paulette Woods
د مالي او عملیاتي چارو رئیسه
د مرکزي ناحیې غړې

# 2022-2023

# د ښوونې او روزنې د بورډ غړي

Mrs. Sharon Belton-Cottman
د فيري ناحيې غړې

Ms. Hope Jay
د شمالي ناحيې د بورډ غړې

Ms. Jennifer Mecozzi
د لويديځې ناحيې د بورډ غړې

Mr. Lawrence Scott
د بورډ غړی - سرپرست

Miss Jasmine Cameron
د زده کوونکو د بورډ غړې/
د زده کوونکو استازی

**د بوفالو دولتي ښوونځي**

Tonja M. Williams, Ed.D.
د بوفالو د دولتي ښوونځیو ناحیوي مدیر

Sharon E. Brown, Ed.D.
د زده کوونکو د ملاتړو خدماتو مرستیال ناحیوي مدیر

Orniece Hill
د زده کوونکو د ملاتړو خدماتو مرستیال ناحیوي مدیر

www.buffaloschools.org

د ښوونې او روزنې بورډ په خپلو ښوونیزو برنامو، خدماتو او فعالیتونو کې د عمر، مذهب، معلولیت، ازدواجي حالت، ملي اصلیت، نژاد، رنګ، جنسیت یا جنسي تمایل پر اساس توپیري چلند نه کوي.

د توپیري چلند اړوند د دغې تګلارې په اړه پوښتنې کولی شئ د بشري منابعو رئیس Tami Hollie-McGee ته، د 720 ښار سالون، بوفالو، نیویارک 14202 یا 716-816-3500 ته د زنګ وهلو له لارې ولیږئ.

www.buffaloschools.org